مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدسمیع صادق ۲۰۲۶/۰۵/۱۵

# حکمت

## قصه په سلوټکو کې

د شفق په شېبو کې ښار ته راستېدونکی عالم د غرو په تنګي کې لاره ورکه کړه.

یوې سمڅې ته ننوت. سر ئې پر غوټه کښېښود فکر یووړ، ټول علوم ئې حاصل کړل، له ټولو جوابونو سره به سهار ښار ته ننوځي.

پام ئې سو چې د غار په چت کې تیاره ساه اخلي. سلګونه شوپرکان د چت له تورو درزونو را وشلېدل، او د ځیري سیوري د ټوټو په شان د شپې پر لور والوتل.

له سپېدو سره شوپرکان بېرته راستانه سول. مسافر بیا فکر یووړ:

«زه چې بیده وم دوی ویښ وه او زه چې ویښ سوم دوی بیدېږي!؟»

محمدسمیع صادق



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ